بسم الله الرحمن الرحيم

**په ۱۴۴۲ هـ.ق/ ۱۹۲۴ م کال کې د خلافت له ړنګېدلو څخه د ۱۰۰ کلونو د تېرېدلو په اړه د حزب التحرير د امير لوی عالم شيخ عطا بن خليل ابو رشته وينا**

ثنا او صفت د وي الله سبحانه وتعالی ته او درود او اسلام د وي په رسول الله صلی علیه وسلم، د هغه پر کورنۍ، ملګرو او پيروانو باندې.

ټول اسلامي امت، په ځانګړي ډول د دعوت هغو ټولو نارینه او ښځینه لېږدونکو ته، چې د راشده خلافت (ريښتيني خلافت) د تأسيس لپاره کار کوي.

**اسلام علیکم ورحمت الله وبرکاته**

سل کاله وړاندې د ۱۳۴۲ هـ.ق د رجب میاشتې په وروستيو کې، چې د ۱۹۲۴م کال د مارچ میاشتې له لومړیو ورځو سره سمون خوري په همدې ورځو کې، د برطانيا پر رهبرۍ او د عرب او ترک غدارانو پر همکارۍ سره استعماري کفر خلافت ونړاوه. د پېړۍ لوی جنايتکار مصطفی کمال د خلافت د ړنګېدلو او پای ته رسېدلو اعلان وکړ او خليفه يې په استانبول کې محاصره کړ، چې د همغې ورځې د رڼا له راپورته کېدلو وړاندې له هغه ځايه تبعيد کړ. بريتانيا مصطفی کمال د دغه کار په بدل کې کې د ترکيې د يو کمزوري سکولر ولسمشر په توګه وټاکه. په دې ډول دغه لويه غميزه رامنځته شوه او اسلامي خاوره د يوې وېرونکې زلزلې سره چې د خلافت ړنګېدل وو، مخ شوه او اسلامي امت له خپل عظمت او د الله سبحانه وتعالی د رضأيت له سرچينې څخه محروم شو.

دغه لوی مجرم، د خلافت پر ړنګولو سره د ښکاره کفر اعلان وکړ. د امت مکلفيت دا وو، چې بايد پر توري سره يې د هغه پر وړاندې مبارزه کړې وی، لکه څنګه چې د رسول الله صلی علیه وسلم په متفق علیه حدیث کې چې د عباده ابن صامت له لوري روايت شوی، فرمايلي دي.

## «وَأَنْ لَا نُنَازِعَ الْأَمْرَ أَهْلَهُ إِلَّا أَنْ تَرَوْا كُفْراً بَوَاحاً عِنْدَكُمْ مِنْ اللَّهِ فِيهِ بُرْهَانٌ»

*__ژباړه:__ د حکامو سره تر هغه وخته جګړه نه کوو، چې له دوی څخه څرګند کفر نه وي ليدل شوی، ترڅو د الله سبحانه وتعالی پر وړاندې د هغه دليل او حجت ولرو.*

ده پر ډېرې بې رحمۍ او ظلم سره د امت وینه وبهوله، په ځانګړې توګه د شیخ سعید بیران په څېر د دین ګڼ شمېر علما یې بندیان او اعدام کړل. دې ټولو د امت پر نیمګړتیاوو اغېز درلود، نه یوازې دا چې د ده پر وړاندې د امت عکسعمل کمزوری وو، بلکې ترڅنګ یې امت ونه توانید، چې د الله سبحانه و تعالی، د هغه د پیغمبر صلی علیه وسلم او د مؤمنانو د غدار او خاین مخه ونیسي. په دې ډول دی د خپل دغه ناوړه عمل د ترسره کولو په وجه چې د ښکاره کفر مرتکب شوی وو، د امت له منګولو څخه وژغورل شو.

له هغه وروسته استعماري غرب اسلامي خاورې تر خپل پراخه اغېز لاندې راوستلې. اسلامي خاوره یې په شاوخوا پنځه پنځوسو برخو باندې ووېشله او دا هرڅه د یادې وېرونکې زلزلې (د خلافت د ړنګېدلو) پایله وه. له هغه وروسته د امت په منځ کې بله لویه پېښه رامنځته شوه او هغه د رسول الله صلی علیه وسلم د اسرأ او معراج په سپېڅلې خاوره کې د یهودي دولت رامنځته کېدل وو. غرب تر هغه وخت د هغه لپاره مبارزه وکړه، ترڅو یې هلته د یهودو شتون او بقا ممکن کړل. د دغې بقا له وسایلو څخه لومړی ډله هغه نېږدې «ګاونډ» اجنټ حاکمان وو، چې د دوی د امنیت یې خوندي کاو. دوی نه یوازې دا چې دغه خیانت وکړ، بلکې ددې ترڅنګ دغه حاکمان څو ځلې د یهودیانو لخوا په ترسرو شوو جنګونو کې مات شول، چې په دې ډول یې یهودي دولت د دوی له اصلي کچې او ظرفیت څخه لوړ او پیاوړی ښکاره کړ. دوی یوازې پر دې باندې بسنه و نه کړه، بلکې خپلې ټولې هڅې یې ترسره کړې، چې د الله سبحانه وتعالی او د هغه د رسول صلی علیه وسلم پر وړاندې وجنګېږي. دوی د فلسطین قضیه ددې پرځای چې داسې مطرح کړي، چې د یهودي دولت رېښې له ټولې فلسطیني خاورې څخه وباسي، له یهودي دولت سره داسې مطرح کړه، چې که امکان ولري په ۱۹۶۷ م کال کې د یهودي دولت له لوري ځینې اشغال شوو فلسطینې سیمو ترلاسه کولو ته لاره هواره شي.

له هغه وروسته دوی تر دې هم کمزورې او له شرمه ډک حالت ته ورسېدل او د یهودي دولت سره یې د خپلو اړیکو د عادي کېدلو خواته پرته له دې چې یهودي دولت له اشغال شوو فلسطیني سیمو څخه په شا شي حرکت وکړ!! ځینو د پردې تر شا د اړیکو د عادي کولو او نورو بیا په رڼا ورځ او ښکاره ډول دغه جرم ترسره کړ! کله چې د مصر حاکم دغه شرمناک، له ننګ او ذلت څخه ډک کار ته لاره پرانیسته، نو له هغه څخه وروسته د اردن، امارت، بحرین، سوډان او مراکش حاکمانو یادې لړۍ ته ادامه ورکړه. سعودي عربستان په دغه منزل کې د یادو هېوادونو ننداره او رهنمایي کوله، چې باید دوی یو پر بل پسې په دغه شرمناکه او ذلت څخه ډکه لاره کې ګامونه کښېږدي او د دغه جرم په ترسره کولو کې بیړه وکړي. پرته له دې چې لږ هم هغه شرم ته پاملرنه وکړې، چې سر تر پایه ورباندې لړل شوي دي.

## ﴿سَيُصِيبُ الَّذِينَ أَجْرَمُوا صَغَارٌ عِنْدَ اللَّهِ وَعَذَابٌ شَدِيدٌ بِمَا كَانُوا يَمْكُرُونَ]

*ژباړه: هغه وخت نيږدې دی، چې مجرمان د خپلو ټګيو په سزا کې د الله سبحانه وتعالی پر وړاندې له رسوايی او سخت عذاب سره مخ شي. [انعام: ۱۲۴]*

دا يوازې فلسطين نه دی، چې واکمنانو ورسره خيانت وکړ، بلکې دوی د اسلامي خاورې ډېرې نورې برخې هم کفارو ته وسپارلې.کشمير د هندو مشرکانو په دولت او کريميا په روسيې پورې وتړل شوه. سويلي سوډان د هغه له شمالي لوري څخه او ختيځ تيمور له اندونيزيا څخه بېل شو. قبرس، هو تاسو د قبرس په اړه څه پوهېږئ؟ هغه د ډېرو کلونو لپاره د مسلمانانو لپاره يوه خوندي کلا وه، خو نن ورځ د يونان تر کنترول لاندې ده. د روهينګيا مسلمانان په ميانمار (برما) کې وژل کېږي، کله چې دوی په بنګلدېش کې فناه وغوښته، نو هلته دوی د رژيم له لوري له لوی مصيبت سره مخ کړل شول او د بسن چار خطرناک ټاپو ته تبعيد کړل شول. دغه ټاپو په پراخه کچه د سېلابونو خطرلري او د انسانانو د استوګنې لپاره مناسب نه دی. له ختيځ ترکستان سره چين داسې وحشي چلند کوي، چې حتی ډېر لوی ظالمان له ورته چلند څخه ډډه کوي. دوی ختيځ ترکستان د ازادو نارينه او هځينه وو پر زندان باندې بدل کړی دی، د دوی ډله ييزې وژنې پټې نه، بلکې په علني او ښکاره ډول د اسلامي هېوادونو پر وړاندې ترسره کېږي، خو دوی يې پر وړاندې د مړو په څېر غلي پاتې کېږي. کله چې د دوی په اړه خبرې کوې، نو بيا وايي چې د چين لخوا پر مسلمانانو باندې ظلم د دوی کورنۍ مسأله ده!

## ]كَبُرَتْ كَلِمَةً تَخْرُجُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ إِنْ يَقُولُونَ إِلَّا كَذِباً[

*ژباړه: څه لويې خبرې د دوی له خولې څخه راوزي، دوی له دروغو پرته بل څه نه وايي. [کهف:۵]*

نور اسلامي هېوادونو هم د هغه جاهلو حکامو لخوا رهبري کېږي، چې د استعماري کفر پر اشاره باندې څرخېږي. دوی نه د خپل هېواد امنيت ساتي او نه د خپلو خلکو غم ورسره دی. د دوی شتمنۍ لوټل شوې او هر ځای او هر وخت له خپل وقار او عزت څخه محروم شوي دي. استعماري کفر په ځانګړي ډول امريکا مسلمانانو ته هېڅ ارزښت نه ورکوي. دوی حتی خپلو مزدوران په داسې الفاظو باندې مخاطبوي چې ورته له ذلت او سپکاوي پرته بل څه نه شي ورکولی او ورته وايي چې «له موږ پرته تاسو د څو ورځو لپاره هم په خپلو کړو چوکيو نه شئ پاتې کېدلی، پس موږ ته دومره پيسې (باج) راکړئ، چې راکولی يې شئ حتی له هغه څخه ډېرې.» په ريښتيا هم، ذليل خلک په اسانۍ سره د ذلت سره مخ کېږي.

**اې مسلمانانو:** دا د خلافت له ړنګېدلو وروسته ستاسو حالت دی، ملتونه له هر لوري څخه ستاسو پر وړاندې يو ځای شوي دي. پس د خلافت تر سيوري لاندې ستاسو حالت څنګه وو؟

تاسو د خاتم انبیأ او د مجاهدینو د امام رسول الله صلی علیه، پیروان او د بشر په تاریخ کې تر ټولو غوره امت یاست. ستاسو باباګان، ریښتیني رهبران، خلیفه ګان، فاتحان او مشران وو. تاسو د صلیبیانو د فاتح او په ۵۸۳ هـ.ق کال د رجب په دغه لویه میاشت کې د دوی له لړلیو قدمونو څخه د القدس د ازادونکي صلاح الدین اولاده یاست. تاسو د تاتاریانو د فاتح قطز او بیبرس اولاده یاست. تاسو د هغه محمد الفاتح اولاده یاست، چې په ۸۵۷ هـ.ق یا ۱۴۵۳ م کال کې یې د قسطنطنیې د فتحې په وخت کې له ۲۳ کلونو څخه ډېر عمر نه درلود، خو الله سبحانه وتعالی ورته هغه عزت ورکړ، چې رسول الله صلی علیه وسلم په هغه حدیث کې بیان کړی چې احمد د بشار الخثعمي په روایت باندې رانقل کړی دی.

## «فَلَنِعْمَ الْأَمِيرُ أَمِيرُهَا وَلَنِعْمَ الْجَيْشُ ذَلِكَ الْجَيْشُ»...

***ژباړه:** تاسو به قسطنطنیه فتح کړی، د دغې فتحې لښکر غوره لښکر او امیر یې غوره امیر دی.*

اې د هغه خلیفه سلیمان القانوني اولادې، چې په ۱٦ م پېړۍ (۱۵۲۵م کال) کې فرانسې ترې د خپل پاچا په خلاصون کې د مرستې غوښتنه وکړه، خو نن ورځ یې د مسلمانانو له خلیفه څخه د مرستې یاده غوښتنه هېره شوې او یا غواړي چې هېره یې کړي. په همدې اساس دوی پرته له دې چې مسلمانانو ته ځواب ورکړي او محاسبه شي د اسلام پیغمبر صلی علیه وسلم ته سپکاوی کوي، ځکه اسلام نن ورځ ډال (خلافت) نه لري. تاسو د هغه خلیفه دریم سلیم اولاده یاست، چې د هغه د خلافت په وخت کې د امریکا متحده ایالاتو کلنۍ مالیه (جزیه) ورکوله، ترڅو د دوی کښتیو ته اجازه ورکړي، چې د عثماني بحري لښکرو له کوم ګواښ پرته په الجزایر کې د اطلس له اقیانوس څخه مدیترانې ته تېرې شي. هلته د لومړي ځل لپاره امریکا اړ شوه، چې له خپلې ژبې پرته، پر یوې بلې ژبې باندې یعنې د عثماني دولت پر ژبې باندې په ۱۲۱۰ هـ.ق یا ۱۷۹۵م کال تفاهم لیک لاسلیک کړي. نن ورځ امریکا د اسلامي نړۍ واکمنان کنترولوي او هغوی ته وایي چې «تادیه وکړئ (باج راکړئ)، ځکه موږ هغه څوک یو، چې له تاسو څخه ساتنه کوو.» تاسو د هغه خلیفه عبدالحمید اولاد یاست، د چا خزانې ته چې د میلیونونو طلاوو د ورتګ وړاندیز وشو، ترڅو په فلسطین کې د یهودي دولت رامنځته کېدلو ته اجازه ورکړي. ده په دې اړه په خپله مشهوره اعلامیه کې وویل «زما په وجود کې د جراحي د چړو کار تر دې ډېر غوره دی، چې فلسطین له خلافت څخه جدا ووینم» وروسته یې زیاته کړه «پرېږدئ چې یهود خپلې میلیونونه طلاوې له ځان سره ولري... که کومه ورځ خلافت ونړول شو، نو دوی بیا کولی شي فلسطین له کوم قېمت څخه پرته ونیسي.» هو همدا هغه څه وو، چې وروسته پېښ شول! تاسو د هغه کسانو اولاد یاست، چا چې ساعت جوړ کړ او یو دانه یې د اروپا د هغه وخت تر ټولو لوی پاچا شارلمان ته ډالۍ کړ او په اړه یې د هغه ملګرو فکر کاوه چې د ساعت په منځ کې جن او پېریان دي!

اې مسلمانانو کله چې د خلافت سیوری ستاسو پر سر وو، نو ستاسو ژوند داسې وو اوکله چې دغه سیوری ستاسو له سر څخه لرې شو نو ستاسو حالت داسې شو، پس اې د بصیرت څښتنانو پام وکړئ!

**خلاصه، اې د قدرت او ځواک څښتنانو او اې د صلاح الدین، خالد او محمد الفاتح اولادې تاسو ته وایم:**

یوازې تاسو هغه څوک یاست، چې د امت سینه له خپلو دښمنانو (د دین له دښمنانو) څخه ژغورلی شئ. یوازې تاسو کولی شئ د هغه ذلت کړی ماتې کړئ، چې له مسلمانانو څخه په خپلو ځمکو او د اسلام په خاوره کې را تاو شوي دي. تاسو به د امت د ویاړ او عظمت هیلو ته تحقق ورکړئ او ټول امت به له تاسو سره ودرېږي. د امت ټولې لښکرې به په لومړي خط کې ستاسو مخ او شا ته ولاړې وي. تاسو به د الله سبحانه وتعالی پر رضأ سره یوازې نه وی، پس خپل مکلفیت ادأ کړئ. الله سبحانه وتعالی دې د دغې بریا لپاره پر تاسو رحم وکړي، ترڅو د راشده خلافت د تأسیس لپاره حزب التحریر ته نصرت ورکړئ. دا یوازې د واقعیت په بیانولو کې د بریا لاره نه ده، بلکې دا خورا لوی مسؤلیت دی، چې پر بنسټ یې اصول رامنځته کېږي او حدود پلي کېږي.  له دې پرته احکام پر خلکو باندې نه شي پلي کېدلی او هېڅ حد نه اجرأ کېږي. څوک چې د خلافت د تأسیس او خلیفه د رامنځته کولو لپاره کار ونه کړي، په داسې حال کې چې د کار کولو وړتیا لري، نو د لویې ګناه مرتکب کېږي. که چېرته مړ شي، نو مرګ یې د جهالت دی، دا د دغې ګناه شدت او لویوالي ښیي.

## «...وَمَنْ مَاتَ وَلَيْسَ فِي عُنُقِهِ بَيْعَةٌ، مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً»"

***ژباړه:*** *که څوک مړ شي او په غاړه کې بیعت ونه لري،نو مرګ یې د جهالت دی.*

مسلمانانو وړاندې له دې چې د رسول الله صلی علیه وسلم تکفین او تجهیز وکړي له خلیفه سره بیعت وکړ، دا ټول د خلافت پر اهمیت او لویوالي باندې دلالت کوي

**اې د قدرت او ځواک څښتنانو: اې د نصرت (ازادی) خلکو: اې اسلامي لښکرو**

ایا ستاسو په منځ کې مصعب بن عمیر، اسعد بن زراره، اسید بن حضیر او سعد بن معاذ نه شته؟ هغه چې الله سبحانه وتعالی او د هغه پیغمبر صلی علیه وسلم ته یې نصرت ورکړ او د دواړو دارینو بریا یې په برخه شوه. حتی د رحمان خدای عرش د سعد بن معاذ پر مړینې سره، چې د الله سبحانه وتعالی دین ته یې نصرت ورکړی وو ټکان وخوړ. بخاري له جابر رضی الله عنه څخه روایت کړي، چې ما له پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه واورېدل چې:

## «اهْتَزَّ العَرْشُ لِمَوت سعد بن معاذ»

***ژباړه:*** *د سعد بن معاذ پر مړینې باندې عرش ټکان وخوړ.*

ايا ستاسو په منځ کې داسې هوښيار کس نه شته، چې د الله سبحانه وتعالى، د هغه د رسول الله صلى عليه وسلم او د هغه د پيروانو ملاتړ وکړي؟ امت تاسو ته په تمه دی. دوی ستاسو تکبير ته انتظار باسي، ترڅو وکولی شي، ستاسو سره په تکبير کې يوځای شي. کله چې ستاسو په لاسونو باندې د تکبير بنرونه پورته شي، دوی به تاسو ته ښه راغلاست ووايي او همدا د امت د ژغورنې يوازينی لار ده، چې راشده خلافت تأسيس شي او هغه په داخل کې په بشپړ ډول اسلام پلی کړي او بهر ته يې د دوعوت او جهاد له لارې ولېږدوي او الله سبحانه وتعالى ورته بريا ورکړي.

## ]إِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَادُ[

***ژباړه:*** *باور ولرئ چې موږ د خپلو پيغمبرانو او مؤمنانو مرسته هرومرو هم په دې دنيا کوو او هم په هغه ورځ چې شاهدان ولاړ وي. [غافر:٥١]*

**اې د الله لښکرو:** موږ پوهېږو چې له اسمان څخه هېڅ پرښته موږ ته د خلافت د تأسيس لپاره نه راځي، ترڅو داسې لښکر رهبري کړي، چې اسلام او مسلمانان پياوړي کړي، بلکې الله سبحانه وتعالى به زموږ د مرستې لپاره پرېښتې وليږي، که چېرته موږ شپه او ورځ ژوند ته د اسلام د راګرځېدولو او د خلافت د تأسيس په موخه رېښتينې، سپېڅلې او له اخلاص څخه ډکه مبارزه وکړو. همدغه د الله سبحانه وتعالى د کتاب او د رسول الله صلى عليه وسلم رېښتينې ژمنه او زيری دی او د هغه خلکو خبرې پرې هېڅ اغېز نه کوي، چې وايي نن ورځ د خلافت تأسيس تش خيال دی. هغه څوک چې دا ادعا لري، چې د خلافت تأسيس يو خيالي کار دی، په واقعيت کې همدوی د تشو خيالاتو په لټه کې دی، په داسې حال کې چې د خلافت تأسيس هغه واقعيت دی، چې ډېر ژر به د الله سبحانه وتعالى پر رضأ سره رامنځته شي. دغه واقعيت د لاندې څلورو واقعيتونو له مخې تأييد شوی دی.

**اول:** د الله سبحانه وتعالى ژمنه ده:

## [وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ ءَامَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ]

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالی ستاسو له هغه کسانو سره، چې ایمان یې راوړی او نیک عملونه ترسره کوي، ژمنه کړې ده، چې هغوی به په ځمکه کې هماغه شان خلیفه ګان وګرځوي، لکه څنګه یې چې له هغوی څخه وړاندې تېر شوي خلک خلیفه ګان ګرځولي ول.*

**دویم:** د نبوت پر منهج د خلافت د تأسیس په اړه د رسول الله صلی علیه وسلم زیری او بشارت، دا چې له ظالمو حکامو وروسته به خلافت تأسیسیږي، رسول الله صلی علیه وسلم فرمایلي دي:

**«...ثُمَّ تَكُونُ مُلْكاً جَبْرِيَّةً فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا ثُمَّ تَكُونُ خِلاَفَةً عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ»**

**ثُمَّ سَكَتَ ﷺ**

***ژباړه:*** *وروسته له هغه به جبریه (ظالم) حکام وي، تر هغه به شتون ولري، ترکله چې الله سبحانه وتعالی غواړي، وروسته به یې له منځه یوسي. وروسته به دنبوت پر منهج خلافت تأسیس شي. له هغه وروسته رسول الله صلی علیه وسلم چپ شو. [احمد له حذیفه څخه روایت کړی دی]*

**دریم:** یو ژوندی او د بشر په تاریخ کې تر ټولو غوره امت:

**[كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ]**

***ژباړه:*** *تاسو په نړۍ کې بشر ته ترټولو غوره راغلی امت یاست، چې په نیکیو باندې امر کوئ، له بدیو څخه منع کوی او په الله سبحانه وتعالی باندې ایمان لرئ. [عمران:۱۱۰]*

که یوه ورځ هم د خلافت تأسیسول ځنډول کېږي، ددې مانا زمري ته د مهلت په څېر دی، مخکې له دې چې حمله وکړي.

**څلورم:** هغه ډله چې د الله سبحانه وتعالی او د هغه د رسول صلی علیه وسلم سره صادقه ده او شپه ورځ کار کړي، چې د الله سبحانه وتعالی ژمنې او د رسول الله صلی علیه وسلم زیري ته تحقق ورکړي، لکه څنګه چې په حدیث شریف کې راځي:

**«لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي ظَاهِرِينَ عَلَى الْحَقِّ لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ حَتَّى يَأْتِيَ أَمْرُ اللَّهِ وَهُمْ كَذَلِكَ»**

***ژباړه:*** *زما د امت یوه ډله به تل په سمه او ثابته لاره باندې بریالۍ پاتې کېږي، دوی به د خپلو مخالفینو پر وړاندې خپلو بریالیتوبونو ته ادامه ورکوي. هغه څوک چې له دوی څخه لرې کېږي، دوی ته زیان نه شي رسولی. دوی به تر هغه وخت پورې په دې حالت کې وي، چې د الله سبحانه وتعالی حکم پلی شوی نه وي (قیامت قایم شوی نه وي) [له ثوبان څخه مسلم روایت کړی دی]*

د دغو څلورو واړو څخه هر یو ددې لپاره کافي دی، چې وښیي د خلافت د تأسیس لپاره کار کومه افسانه او خیالي ادعا نه ده، پس که دا څلور واړه سره یو ځای شي نو بیا شک ته هېڅ بهانه نه پاتې کېږي! په همدې اساس د خلافت تأسیس یو ثابت حقیقت دی، چې ډېر ژر به د الله سبحانه وتعالی پر رضأ سره رامنځته شي او انشأالله د هغه ثبات او ټینګښت به د هغه له تأسیس څخه وروسته تحقق پیدا کړي او د نننیو لویو هېوادونه جوړښتونه به له منځه یوړل شي. دا هېوادونه په واقعیت کې د الله سبحانه وتعالی او د هغه د بنده ګانو پر وړاندې ډېر کوچني دي. هغه کوچني مخلوق (Covid-19) چې حتی په سترګو باندې هم نه لیدل کېده، دغه هېوادونه څومره وځپل د دوی بادار او رهبر (د امریکا متحده ایالات) یې یوه ښه بېلګه ده. تاسو وګورئ د دوی په ټاکنو کې څه پېښ شول، یوه ډله هغه غلا او غلطي بولي او بله ډله یې لویه بریا! دا هرڅه د شخړو په وخت کې بند نه شول، بلکې په رسمي ادارو باندې د برید کولو له او د کپیټلېزم په کور کې د وینو تویولو وروسته دواړو خواوو د ویجاړې شوې ډیموکراسۍ غوښتنه کوله! دا د نن ورځې نړۍ او د هغه رهبران مشران دی، پس یوازې د نبوت پر منهج د خلافت تأسیس هغې ته نجات ورکولی شي او بس.

**وروڼو او خویندو:** موږ شپه او ورځ کار او د الله سبحانه وتعالی په دربار کې پر ډېرې عاجزۍ سره دعا کوله چې د خلافت تأسیس به د سلو کلونو له تېرېدولو وړاندې صورت ونیسي. پر موږ باندې د حزب د دغه اویا کلن ژوند داسې ورځې راغلي، چې موږ په کې د خلافت تأسیس ته ډېر نېژدې شوي وو، خو بیا به هغه رانه لرې شو، مګر موږ هېڅکله هم د الله سبحانه وتعالی له رحمت څخه ناهیلې شوي نه یو. له همدې امله موږ، لکه څنګه چې

سترګې مو د هغه د ليدلو لپاره تږي او زړونه مو ورته درزا کوي، د هغه لپاره کار کوو او موږ پوره ډاډه يو، چې هغه راتلونکي دی، لکه څنګه چې رسول الله صلی علیه وسلم موږ ته د هغه په اړه زیری راکړی دی:

## خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ»

***ژباړه:*** *وروسته به د نبوت پر منهج خلافت تأسيس شي.*

دا هرڅه زموږ لپاره کافي تشويق او هڅونه ده، چې زموږ هوډ پياوړی او جذبې مو غښتلې کړي او موږ پر داسې يو مخلوق باندې بدل کړي، چې د ناورين له امله ستړيا راته د راحتۍ، سکون او ارامۍ ساه راکړي، لکه څنګه چې الله سبحانه وتعالی فرمايلي دي.

## [فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْراً * إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْراً]

***ژباړه:*** *حقيقت دادی، چې له هرې سختۍ سره اساني هم شته. بېشکه چې له سختۍ سره اساني هم شته. [شرح:۵-٦]*

دا هغه څه دي، چې رينښتيني او د باور وړ کس موږ ته په رضين حديث کې فرمايلي دي:

## «وَلَنْ يَغْلِبَ عُسْر يُسْرَيْنِ»

***ژباړه:*** *يوه سختي به پر دوو اسانيو باندې بريالۍ نه شي.*

دغه ابوعبيده ته د عمر رضی الله عنه پيغام وو: «هېڅ ستونزه شتون نه لري، پرته له دې چې الله سبحانه وتعالی له هغه وروسته اساني راولي او يوه سختي پر دوو اسانيو باندې نه بريالۍ کېږي.»

په دې ډول د الله سبحانه وتعالی پر رضأ سره دغه اساني راتلونکې ده او خلافت به د رينښتينو مؤمنانو پر لاس تأسيس شي. خلافت به يهودي دولت له خپلو ريښو څخه نابود کړي او د فلسطين خاوره به د اسلام تر قلمرو لاندې راولي. روم به د استانبول تر خلاصون وروسته فتحه شي او سپېڅلې ژبې به د القاوي العزيز پر خبرو باندې شعار ورکړي.

**[وَقُلْ جَاءَ الْحَقُّ وزهق الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقاً]**

ژباړه: اعلان وکړه، چې حق راغی او باطل له منځه لاړ، باطل له منځه تلونکی دی. [اسرأ: ۸۱]

ټوله ځمکه به د تکبیر چیغې ونیسي او نړۍ به د اسلام په نور باندې روښانه شي.

**«لَيَبْلُغَنَّ هَذَا الأَمْرُ مَا بَلَغَ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَلَا يَتْرُكُ اللَّهُ بَيْتَ مَدَرٍ وَلَا وَبَرٍ إِلَّا أَدْخَلَهُ اللَّهُ هَذَا الدِّينَ بِعِزِّ عَزِيزٍ أَوْ بِذُلِّ ذَلِيلٍ عِزّاً يُعِزُّ اللَّهُ بِهِ الإِسْلَامَ وَذُلّاً يُذِلُّ اللَّهُ بِهِ الْكُفْرَ»**

***ژباړه:*** *دغه مسأله (اسلام) به تر هغه وخته خپرېږي، ترڅو چې شپه او ورځ شتون لري. الله سبحانه وتعالی به هېڅ د خام او پوخ کور پرېنږدي، مګر دا چې دغه دین د ځینو پر عزت او د ځینو نورو پر ذلت سره ور داخل نه شي. هغه عزت چې الله سبحانه وتعالی پر هغې سره اسلام عزیز او هغه ذلت چې الله سبحانه وتعالی پر هغې سره کفر ذلیل کړي دي. [احمد له تمیم الداري څخه روایت کړی]*

موږ پوهېږو چې د اسلام دښمنان فکر کړي، چې د هغه ترلاسه کول امکان نه لري او دوی له هغوی څخه د پخوانیو مسخره کوونکو خبرې تکراروي.

**[غَرَّ هَؤُلَاءِ دِينُهُمْ]**

***ژباړه:*** *دا خلک (مسلمانان) خو د دوی دین سودایي او لېونیان کړي دي. [انفال:۴۹]*

دغه قول په واقعیت کې په دې ډول خلکو باندې لعنت دی او الله سبحانه وتعالی خپل دین او خلکو ته بریا ورکوي. د بریا دغه ورځ د دوی لپاره وېجاړونکې او له خفګان څه ډکه ده، ځکه الله سبحانه وتعالی له خپلو هغو ریښتینو بنده ګانو او عبادت کوونکو سره دی، چې پر الله سبحانه وتعالی باور لري، د هغه ثنا او صفت وایي او د هغه د پیغمبر صلی علیه وسلم سره ریښتیني دي. هغه چې په ډېر اخلاص او دقت سره کار کوي او د هغوی زړونه او د بدن نور غړي د الله سبحانه پر قول باندې ثابت ولاړ دی.

**[إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْراً]**

ژباړه: په یقیني توګه الله سبحانه وتعالی د هرشي لپاره یوه اندازه ټاکلې ده. [طلاق:۳]

د هرې ورځې په تېرېدلو سره دوی دې قدرت ته رسوي.

**[وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَى أَمْرِهِ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ]**

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالی په پوره برلاسۍ سره خپل کار کوي، خو اکثره خلک نه پوهېږي. [یوسف:۲۱]*

**وعلیکم سلام ورحمت الله وبرکاته**

**د ۱۴۴۲ هـ.ق کال د رجب ۲۹ مه د شنبې ورځ**

**۲۰۲۱ م کال د مارچ ۱۳ مه**

**ستاسو ورور**

**عطا بن خلیل ابو رشته**

## د حزب التحریر امیر

**#أقيموا_الخلافة**

**#ReturnTheKhilafah**

**#YenidenHilafet**

**#خلافت_کو_قائم_کرو**